لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». "په تاسو کې هېڅوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نشي تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه ډېر محبوب نشم

له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». "په تاسو کې هېڅوک تر هغه وخته مؤمن کېدلی نشي تر څو چې زه ورته د هغه له پلار، زوی او ټولو خلکو څخه ډېر محبوب نشم".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته خبر راکوي چې یو مسلمان تر هغه وخته پورې د بشپړ ایمان خاوند کېدلای نشي تر څو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مینې ته د خپلې مور، پلار، زوی، لور او ټولو خلکو په مینه ترجیح ورنکړي، او دا مینه د هغه اطاعت، ملاتړ او د هغه د نافرمان پرېښودلو غوښتنه کوي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5953